دریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
Deputy PM for Economic Affairs Office
د مطبوعاتو ریاست





- د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د ۲۲,۷۵ میګاواټه لمریزې برېښنا پروژه پرانیسته
- قرارداد اکتشاف و استخراج گاز طوطی میدان امضاء شد
- Speech by the Deputy Prime Minister for Economic Affairs at the Inauguration Ceremony of the Second Kabul - Jalalabad Road Construction Project

# ابادي
میاشتنۍ

۱۳ ګـڼه

درېیم کال
جمادی الآخرة - ۱۴۴۶ هـ ق

"

افغانستان لکه څه ډول چې د کاني زېرمو له اړخه په نړۍ کې د غني هېوادونو په کتار کې راځي، په همدې ډول د اوبو پراخې طبيعي سرچينې او زېرمې هم لري، خو له بده مرغه افغانستان کې د تاريخ په اوږدو په ځانګړې توګه په معاصر تاريخ کې د دغه لوی الهي او بې بديله نعمت او د پرمختګ له دې اړينې اړتيا سره، د بېلا بېلو عواملو له امله مسلکي چلند نه دی شوی. په دې توګه اوس د افغانستان اسلامي امارت مسووليت دی چې له هرې ممکنې لارې او امکاناتو څخه په استفادې د هېواد د اوبو د غوره مديريت لپاره د پايداره پرمختګ اصل په نظر کې نيولو سره خپل ملي مسووليت په سمه توګه اداء کړي.
ان شاءالله په دې برخه کې زموږ ارادې پیاوړې دي.

الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند

ABAADI

@FDPM_AFG
dpmea.gov.af
@FDPM_AFG

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
Deputy PM for Economic Affairs Office
د مطبوعاتو رياست

بسم الله الرحمن الرحيم

اباد
میاشتنی

دریم کال
جمادی الآخرة-۱۴۴۶ هق
گڼه ۱۳

| | |
|---|---|
| **د امتیاز خاوند:** | د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت |
| **کتنپلاوی:** | مولوي عبدالله عزام، مولوي ذبیح الله ناصر، امان الله حنیفي او فضل ولي شیراني |
| **مسئول مدیر:** | مولوي خالق‌داد تقي |
| **مرستیال:** | احمدشاه راشد |
| **ډیزاینر:** | عطاءالرحمن سعید |
| **فوټوژورنالیست** | مسیح الله عطایي |
| **چاپ:** | بهیر مطبعه - +93782226546 info@baheer.af baheergroup.com |
| **نېټه:** | جمادی الآخرة - ۱۴۴۶هـ.ق |

مرمرینه ماڼۍ، ملک اصغر څلورلارې، کابل

0202107500

media@dpmea.gov.af

dpmea.gov.af



د مجلې له مقالو او انځورونو څخه ګټه اخیستنه د سرچینې په ذکر کولو سره جواز لري.

استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مآخذ مجاز است.

# لړلیک


سـرلـیـکـنـه ۱

غـــونـــډې ۲ - ۵

د پـروژو پـرانیـسـتـې ٦ - ۱۳

خبري راپورونه ۱٤- ۲۳

انفوگرافیک ۲۴ - ۳۳

English Section 1-15

# سرلیکنه



د نړۍ د ټولو پرمختللو هېوادونو د پرمختګ بنستیز لامل صنعتي فعالیت دی. صنعت د هېواد د اقتصاد د ملا تیر جوړوي. که چېرې یو هېواد صنعت او تولید ونه لري، نو هغه بیا په یوه وارداتي هېواد بدلېږي او د نورو هېوادونو د صنعتي او تولیدي توکو په یوه مصرفوونکي بازار بدل او نورو ته اړ وي. په داسې حال کې بیا هېواد په اقتصادي ډګر کې پرمختګ نه شي کولی او ولس یې له خوارۍ، بې کارۍ او ګڼو نورو ستونزو سره مخ وي. که یو هېواد غواړي چې له پورته ستونزو خلاصی ومومي او اقتصاد یې غښتلی شي، نو په کار ده چې خپل صنعت ته وده ورکړي. د صنعت د ودې او پرمختګ له پاره د حکومتي مسوولینو د هلو ځلو ترڅنګ انرژۍ په تیره بیا برېښنا ته اړتیا ده. په تېرو کلونو کې د افغانستان اقتصادي پرمختګ د نړیوالې ټولنې په مرستو، د خدمتونو د برخې په پراختیا او تر یوه بریده د کرنې په سکټور ولاړ و، خو په دې پرمختګ کې بیا د صنعت ونډه په نشت حساب وه. کولای شو ووایو چې د نړۍ د نورو هېوادونو په پرتله د افغانستان د اقتصادي پرمختګ په برخه کې صنعت خپله کارنده ونډه نه ده ترسره کړې. د دې وروسته پاتې والي لاملونه ډېر دي خو اصلي لامل یې د صنعت له پاره په کافي اندازه د انرژۍ نشتوالی ښودلی شو. افغانستان د انرژۍ د تولید پرېمانه سرچینې لري. له اوبو نیولې بیا تر ګازو، تېلو، لمر، باد او داسې نورو پورې ټول په هېواد کې موجود دي. یوازې د داسې یو حکومت اړتیا ده چې له دې سرچینو ګټه پورته کړي. د دې له پاره چې د یوه هېواد صنعتي تولیدات او کرنیز محصولات په کور دننه او بهر کې خلکو ته معرفي شي، د نندارتونونو جوړېدل اړین دي. نندارتونونه د صنعتي تولیداتو او کرنیزو محصولاتو د معرفي کېدو ترڅنګ د سوداګرۍ د غوړېدو او ودې له پاره تر ټولو غوره لار ده او له دې لارې کولای شو محصولات خلکو ته وړاندې او سوداګر دې ته وهڅوو چې په دې برخه کې پانګونه وکړي. په کور دننه او له هېواده بهر د صنعتي تولیداتو او کرنیزو محصولاتو د رسولو له پاره په معیار برابر سړکونه جوړول مهم دي. افغانستان د جغرافیایي موقعیت له امله سمندر ته مستقیمه لاره نه لري او د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره تړل ورته ډېر ارزښت لري. د ځمکې له لارې د سیمې او نړۍ هېوادونو سره نښلېدو له پاره تر ټولو مهم فکټور سړکونه دي. د دې سړکونو له جملې څخه یو هم د کابل- جلال اباد دوهم لین سړک دی چې اقتصادي ارزښت یې لوړ دی. هغه له دې امله چې یاد سړک د هېواد زیاتره مرکزي او جنوبي ولایتونه له ختیځو ولایتونو او په پای کې دغه لویه لار افغانستان د تورخم بندر له لارې د سویلي اسیا هېوادونو سره نښلوي. اسلامي امارت د دې له پاره چې د هېواد صنعت وده وکړي، سوداګري پراخه، د کورنۍ پانګې ترڅنګ بهرنۍ پانګه راجلب کړي، نو د صنعت، انرژۍ تولید، لویو لارو او نندارتونونو جوړولو ته یې مخه کړې ده. په ۱۴۰۳ لمریز کال کې اسلامي امارت په دې وتوانید چې له بهرنیو کمپنیو سره د جوزجان د یتیم تاق سیمنټو تولیدي فابریکې، د طوطي میدان ګازو د اکتشاف او استخراج تړونونه لاسلیک، د کابل- جلال اباد دوهم لین سړک او د ۲۲,۷۵ میګاواټه لمریزې برېښنا پروژه پیل او په کور دننه او بهر کې د صنعتي تولیداتو او کرنیزو محصولاتو له پاره نندارتونونه جوړ کړي. د دې ټولو سترو او مهمو پروژو عملي کولو یوازینۍ موخه د هېواد اقتصادي پرمختګ او پر خپلو پښو درېدل دي.



د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي او
پانگونــې بین الــوزارتي کمېټو

# غونډې

## طرح های تولید صدها میگاوات برق در داخل کشور

### مورد بحث قرار گرفت

جلسهٔ نوبتی کمیته سرمایه گذاری بین الوزارتی به تاریخ اول عقرب سال جاری ۱۴۰۳ خورشیدی در قصر مرمرین برگزار گردید.

به جلسه طبق اجندا طرح های تولید ۵۰ میگاوات برق از گاز طبیعی در ولایت جوزجان، تولید ۱۰۰ میگاوات برق از ذغال سنگ در ولسوالی سروبی ولایت کابل، تولید برق از کثافات جامد در ولایت کابل و تولید ده ها میگاوات برق بادی در ولایت سمنگان، کمپلکس زراعتی و همچنان احداث سردخانه به ظرفیت پنج هزار تن در ولایت غزنی ارایه گردید.

در جلسه پس از ارزیابی همه جانبه طرح های مذکور، به کمیته های مؤظف وظیفه سپرده شد، تا با شرکت های ارایه دهنده طرح ها بحث نموده و گزارش خود را در مدت تعیین شده به کمیته سرمایه گذاری بین الوزارتی ارایه نمایند.



# د لبنیاتو سکټور د ځان بسیاینې پالیسۍ، د منرالونو د ملي پالیسۍ مسودې او په نباتي غوړیو کې د ځان بسیاینې طرحې ته

## د تایید نظر ورکړل شو

د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د عقرب میاشتې په اوومه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم د لبنیاتو سکټور د ځان بسیاینې پر پالیسۍ، د منرالونو د ملي پالیسۍ پر مسودې او د نباتي غوړیو په برخه کې د ځان بسیاینې پر طرحې او همدا راز یوشمېر نورو موضوعاتو بحث وشو. په غونډه کې تر هر اړخیز بحث وروسته یادو موضوعاتو ته د تایید نظر ورکړل شو او د منظورۍ په موخه اقتصادي کمېسیون ته راجع شول.

د لبنیاتو د ځان بسیاینې پالیسۍ په تطبیق سره به په هېواد کې د اړتیا وړ باکیفیته او صحي لبنیات راټول، پروسس او له معیاري بسته‌بندۍ وروسته به بازار ته وړاندې کېږي، چې په دې سره به دغه سکټور د پام وړ وده وکړي. همدا راز به د نباتي غوړیو په برخه کې د ځان بسیاینې طرحې په تطبیق سره په کور دننه باکیفیته او صحي نباتي غوړ تولید او د ورځني بازار اړتیا به تر ډېره له کورنیو سرچینو پوره شي. همدارنګه به د منرالونو د ملي پالیسۍ په تطبیق سره په دغه برخه کې د پام وړ اصلاحات رامنځته شي.



# په بغلان ولایت کې د تیرپارک

## او په مزارشریف ښار کې د سوداګریز مارکېټ جوړولو طرحو ته د تایید نظر ورکړل شو

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د قوس میاشتې په شپږمه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. دې غونډې ته له اجنډا سره سم د بغلان ولایت په خنجان ولسوالۍ کې د تیرپارک جوړولو او په مزارشریف ښار کې د اطلاعات او کلتور وزارت پر ځمکه د سوداګریز مارکېټ جوړولو طرحو د تخنیکي ارزونې راپورونه وړاندې شول. د راپورونو له ارایې وروسته د بغلان ولایت په خنجان ولسوالۍ کې د شاوخوا ۲۰۰ میلیونو افغانیو په پانګونې سره د تیرپارک جوړولو او همدا راز په مزارشریف ښار کې د اطلاعات او کلتور وزارت پر ځمکه د ۸۰ میلیونو افغانیو په پانګونې سره د سوداګریز مارکېټ جوړولو طرحو ته د تایید نظر ورکړل شو.

همدا راز په دغه غونډه کې د لوګر ولایت په مرکز پُل علم ښار کې د ۱۰۰ میګاواټه لمریزې برېښنا، د کابل ولایت په ده سبز سیمه کې د ۵۰ میګاواټه لمریزې برېښنا او د جلال اباد ښار په ځلورمه ناحیه کې د سوداګریز مارکېټ جوړولو پر طرحو هم بحث وشو. د یادو طرحو د هراړخیزې ارزونې لپاره جلا جلا کمېټې وټاکل شوې څو خپل راپورونه په ټاکل شوو نېټو د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.





د پروژو
# پرانیستي

# د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال
# د ۲۲،۷۵ میګاواټه لمریزې برېښنا پروژه
# پرانیسته

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لـوري د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د میزان میاشتې په ۱۷مه نېټه د کابل ولایت په سروبي ولسوالۍ کې له نغلو بند سره نـږدې د ۲۲،۷۵ میګاواټه لمریزې برېښنا پروژې د عملي چارو د پیل پرانیسته وشوه.

د یادې پروژې د پرانیسـتـې په مراسـمو کې د کابینې یوشمېر محترمو غړو، په کابل کې د ترکیې هېواد سفیر، د افغانستان برېښنا شرکت مسوولینو، د خصوصي سکټور اسـتازو او یوشمېر عامو هېوادوالو ګډون کړی وو. محترم ملا صاحب په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو کې د پاکې انرژۍ ارزښت ته په اشارې سره وویل، دا د خوښۍ ځای دی چې په افغانستان کې د پاکې انرژۍ یوه داسې پروژه پیلېږي، چې هغه نه یوازې د چاپېریال سـاتنې په برخـه کې زموږ د هېواد مقاومت زیات او د دغه انرژۍ په برخه کې د افغانستان اړتیا پوره کوي؛ بلکې د نړیوال اقلیم په پاک ساتلو کې هم لازمه مرسته کوي. د محترم ملا صاحب په خبره: «د برېښـــنا د تولید دا ډول پروژې کولی شي چې په تدریجي توګه پر وارداتي برېښـــنا زموږ اتکا راکمه او په کور دننه له موجودو سرچینو څخه خپله اړتیا پوره کړو.» د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، د لمریزې برېښنا د تولید دا ډول پروژې به په هېواد کې د پانګونې مقدار، تولیدي ظرفیت او د استخدام کچه لوړه کړي او همدا راز به له هېواد څخه د اسـعارو د وتلو مخـه ونیسي چې دا به په لویه کې د هېواد له اقتصادي ودې سره د پام وړ مرسته وکړي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخونـد په ملګرو ملتونو او د پاکې انرژۍ پر ملاتړ کوونکو نړیوالو سازمانونو غږ وکړ چې له افغانسـتان سره د پاکې انـرژۍ د تولید په برخه کې لازمه همکاري وکړي او دلته څنډېدلې پروژې له سره پیل کړي. څکه په خبره یې، افغانستان د نړۍ له هغو



هېوادونو څخه دی چې د اقليمي بدلون له امله ډېر متضرر شـــوی، په داســـې حال کې چې د اقليمي بدلون پـــه تخريب کې يې هېڅ ډول فعاليت نه دی ترسره کړی. محترم ملا صاحب زياته کړه، د نړيوال اقليم ساتنه بې له کومې استثناء د ټولو هېوادونو ګډ مسووليت دی او پرته له استثناء ټول هېوادونه ترې متاثره دي. بناً دغه ګډ مسووليت ګډې همکارۍ ته اړتيا لـــري. په پای کې د رياســـت‌الوزراء اقتصادي مرســـتيال محترم ملا عبدالغني بـــرادر اخوند ټولو کورنيـــو او بهرنيو پانګوالو ته بلنـــه او ډاډ ورکړ چې اسلامي امارت په ټولو برخو په ځانګړې توګه د برېښنا په توليد کـــې د دوی هـــر ډول پانګونې او هڅو ته هرکلی وايي او د لازمو اسانتياوو په برابرولو کې ورسره لازمه مرســـته کوي. د يادونې وړ ده چې د ۲۲,۷۵ ميګاواټه لمريزې برېښنا د توليد پر پروژه د ۷۷ ترکي او زولرســـتان کورني شرکت له لوري شـــاوخوا ۱۸ ميليـــون ډالره پانګونه کېږي، چې چارې به يې د يو کال په جريان کې بشـــپړې او تر يوې اندازې به د کابل صنعتي پارکونـــو او همدا راز عامو هېوادوالو د برېښنا ستونزې حل کړي.

"

د نړيـــوال اقليم ســـاتنه بې له کومې استثناء د ټولو هېوادونو ګـــډ مســـووليت دی او پرتـــه له اســـتثناء ټـــول هېوادونـــه ترې متاثره دي. بناً دغه ګډ مسووليت ګډې همکارۍ ته اړتيا لري.





# قرارداد اکتشاف و استخراج
## گاز طوطی میدان امضاء شد

در حضورداشت محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء به تاریخ ۱۹م میزان سال جاری به ارزش حدود یک میلیارد دالر سرمایه گذاری قرارداد ۱۰ساله اکتشاف و استخراج گاز طوطی میدان میان وزارت معادن و پترولیم افغانستان و کمپنی ازبیکستانی امضاء شد.

طبق این قرارداد کمپنی قراردادی در سال نخست ۱۰۰ میلیون دالر و در جریان ده سال یک میلیارد دالر سرمایه گذاری و از گاز استخراج شده در دو سال اول ۱۰۰ میگاوات برق نیز تولید می کند.

ذخایر گاز طوطی میدان ولایت فاریاب حدود ۷ هزار کیلومتر مربع مساحت دارد که با آغاز استخراج آن تا حدی نیازمندی گاز کشور مرفوع و به صورت مستقیم و غیر مستقیم به هزاران هموطن زمینه کار مساعد خواهد شد.





# د کرنیزو او مالدارۍ محصولاتو
## ۳۱م خزاني نندارتون پرانیستل شو

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند لـه لوري د روان ۱۴۰۳ لمریـز کال د میزان میاشتې په ۲۵مه نېټه په بادام باغ څېړنیز او روزنیز فارم کې د کرنیـزو او مالـدارۍ محصولاتو ۳۱م خـزاني نندارتون پرانیستل شو. په دغه نندارتون کې د ریاست الوزراء سیاسي او اداري مرستـیالانو، د کابینې یوشـمېر محترمو غړو، د خصوصي سـکټور اسـتازو او همداراز یوشـمېر بزگرانو، مالدارانـو او عامو هېوادوالو هم گډون کړی وو. د ریاسـت الوزراء اقتصادي مرسـتیال په همدې مناسـبت جوړ شوو مراسـمو کې د هېواد کرنیز اقلیم ته په اشارې سره وویل، افغانستان د حاصل خېزو کرنیزو ځمکو، پاکو اوبو او متنوع اقلیمي شرایطو په لرلو سره د کرنې بالقوه ښـه ظرفیتونه او مختلف محصولات لري. محترم مـلا صاحب زیاته کړه، د اسـلامي امارت په بیاځلې حاکمیت سره د کرنې برخې ته پاملرنه زیاته شوې چې له مخې یې د کوکنارو کښت صفر ته راټیټ او د بدیل معیشـت مختلفې پروژې د پلي کېدو په حال کې دي. محترم ملا صاحب زیاته کړه، اسلامي امارت د هېـواد د کرنې او مالدارۍ برخـې د پیاوړتیا په موخه د اقتصاد محوره پالیسۍ له مخې مسلسلې هڅې کوي، څو د کورنیـو محصولاتو د ملاتړ او د وارداتو د تعویض مناسـب سیاستونه پلي، کرنه میکانیزه، اوبه مدیریت او په دې برخه کې مهمې برنامې تطبیق کړي چې پر اســاس به یې زموږ محصولات په کور دننه او بهر کې د سیالۍ جوگه شي.

محترم ملا صاحب د یاد نندارتون ارزښت ته په اشارې سره وویل: «موږ اړتیا لرو چې سیمه‌ییزو او نړیوالو بازارونو ته خپل محصولات ورسوو، خو دا چاره هغه وخت لا ښه تطبیق کېږي چې د مالدارۍ او کرنیزو محصولاتو کیفیت، بسـته‌بندۍ، پروسس او څنځیري ارزښتونو پیاوړتیا ته توجه لا زیاته کړو.»

د ریاسـت‌الوزراء اقتصادي مرسـتیال زیاته کړه، اسلامي امارت د کرنیزو او مالدارۍ محصولاتو د څنځیري ارزښت د پیاوړتیا، پروسس او بسته‌بندۍ په برخه کې هر ډول پانگونې ته هرکلی وایي او د لازمو اسانتیاوو د رامنځته کولو په موخه د بشپړې همکارۍ ډاډ ورکوي.

په پای کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند دغـه نندارتون د کرنیزو او مالدارۍ محصولاتو لپـاره د بازارموندنې په برخه کې مهم وباله او له ټولو بزگرانو، مالدارانو، سوداگرو او پانگوالو یې وغوښتل چې د محصولاتو معیاري توب ته پاملرنه زیاته کړي. د کرنیزو او مالدارۍ محصولاتو پـه ۳۱م خزاني نندارتون کې په ۲۶۳ غرفو کې بېلابېل کرنیز او د مالدارۍ محصولات نندارې ته اېښودل شوي وو چې څلور ورځې یې دوام وکړ.



# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند
# د کابل – جلال اباد لويې لارې د دوهم لين سړک
# د جوړولو چارو پرانيسته وکړه

د رياستالوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمريز کال د عقرب مياشتې په پنځمه نېټه د کابل – جلال اباد لويې لارې د دوهم لين سړک د جوړولو چارو پرانيسته وکړه.
په دغو مراسمو کې د ټولګټو محترم وزير ملا محمد عيسى ثاني، د ننګرهار ولايتي مسوولينو، د خصوصي سکټور استازو او يوشمېر هېوادوالو هم ګډون کړی وو.
د رياستالوزراء اقتصادي مرستيال په همدې مناسبت جوړ شوو مراسمو ته وويل، د کابل – جلال اباد د لويې لارې دوهم لين سړک د هېواد د داخلي اتصال او ځمکني ترانسپورټ په برخه کې هغه مهمه پروژه ده، چې دوه ستر تجارتي او ستراتيژيک ولايتونه کابل او ننګرهار په کمه فاصله يو له بل سره نښلوي. محترم ملا صاحب زياته کړه، د دغو دوو مهمو اقتصادي، تجارتي او ترانزيټي ښارونو ترمنځ د ترانسپورټ اسانتيا نه يوازې کورنۍ سوداګرۍ ته وده ورکوي، بلکې له سيمې او نړۍ سره زموږ د سوداګريزو اړيکو او مناسباتو په پراختيا کې هم مهم رول لري او د هېواد له ملي اقتصاد سره مرسته کولی شي.
محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وويل، دغه سړک د عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ صاحب حفظه الله د حکم پر اساس د کابل - جلال اباد پر لويه لار د تلونکو وسايطو څخه د هغوی د نوعيت په تفکيک د ټاکل شوي حق العبور په بدل کې جوړېږي. دا محصول به د ټولګټو وزارت په ځانګړي بانکي حساب کې په شفافه توګه جمع، بانک ته به تحويل او ماليې وزارت به يې د مصرف او عملياتي اړتياوو اړوند اړينې او عاجلې اسانتياوې برابروي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د دې لارې ارزښت ته په اشارې سره وویل، د کابل – جلال اباد لویې لارې د دوهم لین سړک په جوړېدو سره به د دې لارې پر لومړي لین سړک ګڼه ګوڼه راکمه او د ترافیکي پېښو کچه به راټیټه شي. همدارنګه به د ټګ راټګ اسانتیاوې برابرې، د سوداګریزو توکو د لېږد بهیر به ګړندی، خوندي او کم لګښته شي او همدا راز به د لارې په اوږدو کې کوچني او منځني کاروبارونه وغوړیږي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، د داخلي ترانسپورټ معیاري رغول او پیاوړتیا د سیمه‌ییز اتصال لپاره لومړنی شرط دی؛ داخلي لویې لارې او سړکونه له یوې خوا د هېواد ولایتونه یو له بل سره نښلوي او له بلې خوا همدا سړکونه د سیمې له هېوادونو سره د سیمه‌ییز ترانسپورټي اتصال په برخه کې تر ټولو اساسي رول لوبوي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د غونډې په پای کې ټولو هېوادوالو ته د دې مهمې پروژې مبارکي وویله او د سیمې له اوسیدونکو څخه یې وغوښتل چې د تطبیق په برخه کې یې له اړوندو مسوولینو سره لازمه همکاري وکړي. همداراز یې د پروژې تطبیق کوونکو تخنیکي ټیمونو ته سپارښتنه وکړه چې دا مهمه پروژه د ټولو معیارونو په پام کې نیولو سره په ښه ډول تطبیق کړي.

د یادونې وړ ده چې د کابل ـ جلال اباد دوهم لین سړک چې شاوخوا ۱۵۰ کیلومتره اوږدوالی لري، د کابل بګرامیو ولسوالۍ څخه پیل د کابل ولایت خاکجبار، د ننګرهار ولایت د حصارک، خوګیانیو او سرخرود ولسوالیو څخه له تېرېدو وروسته د ننګرهار د حلقوي سړک سره نښلول کېږي. د دغه سړک د لومړي فاز د لومړي لاټ چې ۲۲ کیلومتره اوږدوالی لري، د اساسي جوړونې چارې پیل شوې دي.

د داخلي ترانسپورټ معیاري رغول او پیاوړتیا د سیمه‌ییز اتصال لپاره لومړنی شرط دی؛ داخلي لویې لارې او سړکونه له یوې خوا د هېواد ولایتونه یو له بل سره نښلوي او له بلې خوا همدا سړکونه د سیمې له هېوادونو سره د سیمه‌ییز ترانسپورټي اتصال په برخه کې تر ټولو اساسي رول لوبوي.



# د یتیم تاق سیمنټو تولیدي فابریکې

## د جوړولو تړون لاسلیک شو




د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د عقرب میاشتې په اتمه نېټه د جوزجان ولایت په یتیم تاق سیمه کې د کانونو او پټرولیم وزارت او ۷۷ ترکي شرکت ترمنځ د سیمنټو لویې تولیدي فابریکې د جوړولو تړون لاسلیک شو.

د دغه تړون له مخې به قراردادي شرکت د یادې فابریکې د جوړولو په برخه کې ۱۶۳ میلیون ډالره پانګونه کوي او په ورځني ډول به د ۳۰۰۰ ټنو سیمنټو د تولید وړتیا ولري. د کانونو او پټرولیم وزارت مسوولین وایي، دا تړون چې له مخې به یې یاد ترکي شرکت د سیمنټو د اکتشاف، استخراج، تولید او تولنیزو خدماتو په برخو کې پانګونه کوي، د ۳۰ کلونو له پاره په پام کې نیول شوی دی.

د سیمنټو د دغه تولیدي فابریکې په جوړېدو سره به شاوخوا ۱۲۰۰ هېوادوالو ته په مستقیم ډول د کار زمینه برابره شي.

د یادونې وړ ده چې د کانونو او پټرولیم وزارت د سیمنټو په برخه کې د هېواد ځان بسیاینې په موخه له دې پروژې وړاندې د شاوخوا ٤٧٦ میلیون ډالرو په ارزښت د جبل السراج، کندهار او هرات سیمنټو پروژو قراردادونه له یوشمېر کورنیو او بهرنیو شرکتونو سره لاسلیک کړي دي.



# خبري
# راپورونه

## د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال
# د سالنګونو لویې لارې له کاري بهیر څخه لیدنه وکړه

د ریاســـت‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ســـالنګونو لویې لارې لـــه کاري بهیر څخه لیدنه وکړه. د دغه لیدنې پر مهال د ټولګټو سرپرست وزیر محترم ملا محمد عیسی ثاني او یوشمېر نورو مسوولینو هم حضور درلود.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د سالنګونو لویې لارې د بیارغونې له ترسره شـــوو کارونو خوښي څرګنده کړه او د یادې پروژې مسوولینو ته یې د دې ملي پروژې د کار د غوره کیفیـــت او په ټاکلي وخت د بشـــپړېدو پـــه هکله لازمې لارښـــوونې وکړې. محترم ملا صاحب د قراردادي شرکتونو مسوولینو، تطبیق کوونکو ټیمونو او فني کارکوونکو سره د لیدنې پر مهال وویـــل، د هېواد د ابادۍ لپاره باید په ګډه کار وکړو او دا د ویاړ ځای دی چې تاسو یې په بیارغونه کې برخـــه اخلئ. د ســـالنګونو لویـــې لارې د بیارغونې کار د ټولګټو وزارت تر نظارت لاندې له خصوصي سکټور سره په درېیو برخو کې قرارداد شـــوی، چې اوسمهال یې له تونل څخـــه تر ۱٦ مې ګالرۍ پـــورې د سي ټي بي او کانګرېټ اچونې کار بشپړ شوی او په شمالي او جنوبي سالنګ کې د ۱۰ ګالریو د بیارغونې کار جریان لري چې په نږدې وخت کې به بشـــپړ شي. د یادونې وړ ده چـــې د یادو ګالریو پر بیارغونې سربېره په شمالي سالنګ کې د خنجان – دوشي سړک د اسفالټ اچونې کار هم جریان لري.

# په پراختیایي برخو کې د اوږدمهاله مرستو پر زیاتوالي
## او د موسساتو د ستونزو پر حل خبرې وشوې

د ریاســـت‌الوزراء اقتصادي معاونیت د دفتر عمومي رئیس مولـــوي عبدالله عزام په مشرۍ جوړه شـــوې غونډه کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت اړوند د عامه اړیکو ریاست او د کورنیو موسساتو د استازو ترمنځ په پراختیایي برخو کې د اوږدمهاله مرســـتو پر زیاتوالي او د موسساتو د ستونزو پر حل خبرې وشوې.

ښاغلي مولوي عبدالله عزام دغه غونډې ته د خپلو خبرو پر مهال وویل، کورنیو موســـســـاتو په سختو حالاتو په ځانګړې ډول په هېواد کې د وروستیو طبیعي پېښو پر مهال هېوادوالو ته بشري مرستې رسولې او د هغوی لاسنیوی یې کړی، چې اسلامي امارت یې قدرداني کوي. ښاغلي عزام زیاته کړه، له لسیزو جګړو وروسته په افغانستان کې د ابادۍ او د ولس د ستونزو د اساسي حل فرصت برابر شوی، ښه ده چې کورني موسسات له اسلامي امارت سره په پوره همغږۍ د امکان تر حده خپلې مرســـتې پراختیایي برخو ته واړوي چې دا به په اوږدمهال کې د هېوادوالو اقتصادي ســـتونزې حل کړي. ورپسې د کورنیو موسساتو استازو د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت له مســـوولینو مننه وکړه چې د کورنیو موسساتو د ستونزو د حل او په پراختیایي برخو کې د اوږدمهاله مرستو د جلب او تطبیق په موخه یې د همغږۍ غونډه رابللې ده. دوی خپلې ســـتونزې او د اوږدمهاله مرستو د جلب او تطبیق په برخه کې خپل وړاندیزونه د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت له مســـوولینو سره شریک کړل. د غونډې په پای کې دواړو لورو د اسلامي امارت او کورنیو موسساتو ترمنځ د همغږۍ پر رامنځته کولو ټینګار وکړ او ټاکید وشو، چې په دغه برخه کې به ګډ کار کولو ته دوام ورکوي.

# بانکي سکټور

## د هېواد په اقتصادي وده کې د يو بنسټيز سکټور په توګه پرېکنده رول لري او پر مټ يې دا برخه پراختيا موندلې شي

د افغانستان اسلامي امارت د دې ليد پر بنسټ، بانکي سکټور په خپلو لومړيتونو کې نيولی دی. اغېزناک، خوندي او د معياري بانکي خدمتونو وړاندې کول، له ګاونډيو او سيمې هېوادونو سره د بانکي اړيکو پياوړتيا، د شفاف او حساب ورکوونکو سيستمونو رامنځته کول، خصوصي پانګونه او په دې برخه کې بنسټيزو اصلاحاتو ته زمينه برابرول يې د کارونو په سر کې ځای لري.

د هېواد لرې پرتو سيمو ته د بانکي خدمتونو رسول، د بانکي سکټور په کړنو کې ښه والی، په ټول هېواد کې په افغانيو راکړه ورکړه او په راکړه ورکړه کې د بهرنيو اسعارو نه کارېدل، د بهرنيو اسعارو پر وړاندې د افغانيو ارزښت لوړېدل، د افغاني بانک‌نوټونو چاپول، بازار ته يې وړاندې کول او په بدل کې يې له بازار څخه د مندرس بانک‌نوټونو راټولول او سوځول، د اسلامی بانکوالۍ دودول، د پخوانيو تضميناتو، طلباتو او تاميناتو ورکړه، د ادراينو او معلوماتي ټکنالوژۍ د سيستمونو پراختيا، انفلاسيون مطلوبې کچې ته راټيټول، د مشتريانو پر امانتونو د محدوديتونو تدريجي کمېدل، په خصوصي بانکونو کې د نغدينه‌ګۍ ستونزې حل، مالي قضيو ته په محاکمو کې لومړيتوب ورکول او د بانکونو له لارې د عوايدو راټولول هغه ګامونه دي چې د بانکي سکټور د تقويې په موخه اخيستل شوي دي.

د افغانستان بانک له لوري د معقولو پولي سياستونو تطبيق، بهرنيو هېوادونو ته د اسعارو د قاچاق مخنيوی، صادراتي وده، په دولتي کچه د غير ضروري لګښتونو مخنيوی، په هېواد کې د ملي او سيمه‌ييزو پروژو پيل او د نړۍ له هېوادونو سره سوداګريزه پراختيا هغه عوامل دي چې د افغانۍ د ارزښت ساتنې او لوړېدو په برخه کې يې مرسته کړې ده.





د افغانستان اسلامي امارت

# د انــرژۍ سکټور

## په خپلو لومړيتونو کې نيولی او موخه يې په دغه برخه کې پر ځان بسيا‌ينه ده

افغانستان د خپلې اړتيا وړ برېښنا ډېرې برخه له ګاونډيو هېوادونو څخه واردوي، په داسې حال کې چې د هېواد په دننه کې د انرژۍ سکټور د تأمين لپاره پراخې سرچينې وجود لري.

د انرژۍ سکټور د هېواد په اقتصادي ثبات کې رغنده رول لري او اوسمهال په نړۍ کې ډېرى هېوادونه د ژوند د لومړنيو اساسي ضرورتونو ترڅنګ، د انرژۍ تأمين ته هم خورا زيات ارزښت ورکوي او په دې تړاو د انرژۍ د تأمين لپاره خپلې ستراتيژۍ جوړوي. افغانستان د اوبو، تېلو، ګازو، ډېرو سکرو، لمر او باد په ګډون د انرژۍ توليد پرېمانه سرچينې لري. په لمريزه برخه کې افغانستان د شاوخوا ۲۲۳ زره مېګاواټه برېښنا د توليدولو ظرفيت لري.

د انرژۍ په سکټور کې د ځان بسيا‌ينې نشتوالی زموږ د هېواد د اقتصادي پرمختګ پر وړاندې لويه ننګونه ده، له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت په دې برخه کې د کورنيو او بهرنيو پانګوالو د جلب او جذب او د پانګونې لپاره د اسانتياوو برابرولو په برخه کې کوټلي ګامونه اخيستي دي.

د لمريزې برېښنا د توليد په برخه کې د عامه او خصوصي مشارکت د ماډل له مخې د کابل ولايت په سروبي ولسوالۍ کې د ۱۰ مېګاواټه لمريزې برېښنا پروژه بشپړه او ګټې اخيستنې ته سپارل شوې ده او د ۲۲,۷۵ مېګاواټه برېښنا د توليد پروژې عملي چارې پيل شوې دي چې په نېږدې راتلونکې کې به په نورو ولايتونو کې هم ورته پروژې پيل شي. د لمريزې برېښنا څخه د انرژۍ د توليد د دا ډول پروژو له عملي کېدو څخه د اسلامي امارت موخه؛ د انرژۍ د ارزانه سرچينو تأمين ، د ناکاره ګازونو د توليد مخنيوی، د اقليمي بدلونونو پر وړاندې مبارزه، د پايدارې برېښنا رامنځته کېدل، په هېواد کې د پانګونې لپاره زمينه برابرول، د اسعارو د وتلو مخنيوی، د کاري فرصتونو رامنځته کول او په لويه کې د هېواد له اقتصادي ودې سره د پام وړ مرسته کول دي.





# د اوبو مدیریت او کرنیزو ځمکو خړوبول

## د اسلامي امارت له لومړیتوبونو څخه دي

اســـلامي امارت د هېواد په کچه د هغو لويو او متوســـطو بندونو ارزونه تـــرسره کړې چې کارونه يې نيمګړي پاتې يا هم نه وو پيل شوي. له ارزونې وروسته د يادو بندونو د پاتې چارو بشـــپړولو لپاره جامع کاري پلانونه جوړ شوي چې له مخې يې د تېرو دريو مياشتو په جريان کې په پکتيکا کې د پلتوني بند، په لغمان کې شاهي کانال او په ارزګان کې د اغاجان بندونو عملي چارې پيل شوې دي.

د پلتـــوني بند په جوړېـــدو سره به شـــاوخوا ۲۵ ميليونه مترمکعـــب اوبه زېرمه، ۲۵۰۰ هکتـــاره ځمکه به خړوبه او ورسره به ۹۳۵ کيلو واټه برېښـــنا هم توليد شي. د پلتوني بند د چارو په بشپړېدو سره به په دغه ولايت کې تر ځمکه د لانـــدې اوبو زېرمې تغذيه، کرنيـــزې ځمکې به خړوبې، سېلابونه به کنټرول او د چاپېريال په خوندي ساتلو کې به رغنده رول ولوبوي.

همدا ډول د لغمان شـــاهي کانال ۷۰ کيلومېټره اوږدوالی لري چې په بشپړېدو سره به يې لغمان ولايت کې شاوخوا ۲۰ زره هکټاره کرنيزه ځمکه خړوبه او زرګونو هېوادوالو ته به د کار زمينه برابره شي.

همـــداراز به په ارزګان ولايت کې د اغاجان بند په جوړېدو سره موسمي ســـېلابونه کنټرول او د ځمکې لاندې اوبو د سرچينو په تقويه کې به رغنده رول ولوبوي. د اغاجان بند د ۷۰ ميليون مترمکعب اوبو د ذخيره کولو ظرفيت لري چې ۷ زره هکټاره کرنيزه ځمکه به خړوبه کړي.

د يادولو وړ ده چې د روان لمريز کال د ميزان مياشـــتې په ۵مه نېټه د رياســـت الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري په زابل کې د عمري بند هم ګټې اخيستنې ته وسپارل شو.

دغه بند د ۲۳ مترو په لوړوالي د ۲,۹ ميليون مترمکعب اوبو د ذخيره کولو او د ٦١ کېلو واټه برېښنا د توليد ظرفيت لري او ۵٦۰ هکتـــاره کرنيزه ځمکه خړوبوي چې زرګونه کورنۍ ترې ګټه اخلي.

# د امــو دریا نفتي حوزې ورځنی استخـراج
## به له دوو تــر درېیــو زرو ټنــو پــورې ورسېږي

د افغانستان اسلامي امارت د انرژۍ سکټور وده او پیاوړتیا په خپلو لومړیتوبونو کې نیولې او غواړي چې په دغه سکټور کې د کورنیو سرچینــو پر مټ خودکفایي ته ورســېږي.
اســلامي امارت په همدې موخه د امو دریا نفتي حوزې د نفتو استخراج پیل کړی چې اوسمهال یې په نورمال ډول د استخراج چارې دوام لري.
اســلامي امارت د انرژۍ په سکټور کې د کورنیو او بهرنیو پانګوالــو د جلب او جذب او د پانګونې لپاره د اســانتیاوو برابرولو په تړاو جدي هڅې پیل کړې دي.
په همدې موخه د کانونو او پټرولیم وزارت سږ کال په پلان کې لري چې د امو دریا نفتي حوزه کې ۲۵ نور څاګان هم فعــال کړي. د یــادو څاګانو له جملــې ۱۸ نوي کیندل کېږي، د دوو اکتشافي چارې پیلېږي او پنځه هم پخواني څاګان دي چې بیاځلې ترمیم او رغول کېږي.
د نویــو څاګانو په کیندلو او بیارغولو سره به د اســتخراج ورځنۍ کچه له دوو تر درېیو زرو ټنو پورې ورســېږي. دا په داســې حال کې ده چې اوسمهال په امو دریا نفتي حوزه کې د ټېلو ۲۴ څاګانې فعالې دي چې په ورځني ډول ترې ۱۳۵۰ ټنه نفت اســتخراجېږي. اســتخراج شوي نفت په هېواد کې دننه پروسس او د ورځني بازار د اړتیا یوه مهمه برخه پوره کوي.



# در پروسه تدارکاتی پروژه های زیربنایی شفافیت و سرعت به میان آمده است

امارت اسلامی تلاش می ورزد تا به منظور بازسازی کشور، پروژه های گوناگون زیربنایی را در بخش های مختلف تطبیق نماید. به همین منظور کمیسیون تدارکات ملی در جلسات نوبتی خود شفافیت و سرعت بیشتری را در پروسه های تدارکاتی پروژه های زیربنایی ایجاد کرده است.

در جلسات این کمیسیون تاکنون به ارزش ده‌ها میلیارد افغانی پروژه‌ها منظور شده که کار شماری از آنها تکمیل و روی برخی از آنها کار جریان دارد. از آغاز ۱۴۰۳ خورشیدی تاکنون در جلسات این کمیسیون به ارزش حدود ۳۵ میلیارد افغانی ده ها پروژه مختلف منظور شده است.

از جمله این پروژه ها که تعداد آن به ۱۲٤ می رسد، پروژه های توسعه وی شاهراه‌ها، سرک های شهری، بندها و کانال ها، دیوارهای استنادی، مراکز صحی، میدان های هوایی، ساخت و بازسازی خط آهن، عرضه خدمات مخابراتی و انترنتی، شبکه های آبرسانی، شبکه های تولیدی برق، پروژه های توسعه وی زمین های زراعتی و نهادهای تحصیلی شامل اند.

این پروژه‌ها به شمول کابل در ولایات بادغیس، فاریاب، هرات، بلخ، نیمروز، نورستان، کنر، قندهار، زابل و شماری ولایت های دیگر تطبیق می گردد.

با تکمیل شدن این پروژه ها، نه تنها پیشرفت در سکتورهای مختلف کشور به میان می آید، بلکه به هزاران تن به صورت مستقیم و غیر مستقیم زمینه کار مساعد گردیده است.






### جهت بازاریابی تولیدات داخلی و محصولات زراعتی

# ده‌ها نمایشگاه برگذار شده است

امارت اسلامی تلاش می کند تا با برگذاری نمایشگاه‌ها در داخل و خارج کشـور، مارکیت برای تولیـدات داخلی و محصولات زراعتی پیدا، سطح صادرات را افزایش داده و از این طریق راه برای توسعه تجارت هموار سازد.

در دنیای امروزی، هدف از برگذاری هر نوع نمایشــگاه، معرفی محصولات جدید، ارائه معلومات، رشد ظرفیت ها و همچنان پیشـکش نمـودن طرزالعمل هــای جدید در مدیریت صنعت است که همه این ها بر توسعه صادرات و دسترسی به بازارهای مناسب تمام می شوند.

با توجه به اهمیت نمایشگاه‌ها، امارت اسلامی در بیش از سه سال گذشته، ده‌ها نمایشــگاه را در داخل و خارج از کشــور برگذار نموده است. به همین دلیل سطح صادرات نسبت به ســال های گذشــته روز به روز افزایش یافته و تجارت در حال گسترش است.

از آغـاز ســال جاری ۱۴۰۳ خورشـیدی تاکنـون ده‌ها نمایشگاه محصولات زراعتی و تولیدات صنعتی در داخل و خارج از کشور راه اندازی گردیده که نمونه های خوب آن فــورم تجارتــی افغان ـ قــزاق، ۳۰ ام نمایشــگاه بهاری محصولات زراعتی، فورم تجارتی افغانستان ـ ازبیکستان، سومین نمایشگاه ملی و بین المللی امام ابوحنیفه،۳۱ ام نمایشــگاه خزانــی محصــولات زراعتــی و مالــداری و نمایشــگاه تجارتی افغان ـ قزاق در شــهر آلماتا پایتخت قزاقستان است.

معــاون اقتصادی ریاســت الــوزراء در مراســم افتتاح نمایشــگاه‌ها با اشاره به ارزش نمایشگاه‌ها گفته، حکومت ها تلاش دارند تا جهت معرفی و بازاریابی محصولات شان در داخل و خارج از کشور نمایشگاه‌ها را راه اندازی نمایند، تا تجارت رشـد کــرده و در این عرصه بــه سرمایه‌گذاری داخلی و خارجی زمینه مساعد گردد.

در این نمایشــگاه‌ها در کنار تولیدات داخلی و محصولات زراعتی، تولیدات صنعتی خارجی نیز به نمایش گذاشــته شــده بود. در جریان این نمایشگاه‌ها به ارزش میلیون ها دالر قراردادهای تجارتی بین تجاران افغان و خارجی نیز به امضاء رسیده است.

# تولید انرژی

## یک عنصر اساسی برای رشد اقتصادی افغانستان است

تولید انرژی یک عنصر اساسی برای رشد اقتصادی افغانستان است. گاز یک بخش مهم در سکتور انرژی به حساب می آید که منابع وسیعی از آن در داخل کشور موجود است.

افغانستان بیشتر گاز مورد نیاز خود را از کشورهای همسایه و منطقه وارد می کند درحالیکه زمینه خوبی برای استخراج ذخایر گاز در داخل کشور مهیا شده است.

در کنار سایر سکتورها، عدم خودکفایی در تولید گاز، یک چالش در برابر توسعه اقتصادی کشور است، به همین سبب امارت اسلامی تلاش های جدی برای جذب سرمایه گذاری داخلی و خارجی آغاز کرده است.

در همین راستا به تاریخ ۱۹ ام ماه میزان سال جاری، بین وزارت معادن و پترولیم و کمپنی ازبکستانی، در حضورداشت محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء با سرمایه گذاری حدود یک میلیارد دالر، قرارداد ده ساله اکتشاف و استخراج گاز طوطی میدان ولایت فاریاب به امضاء رسید.

طبق این قرارداد کمپنی یاد شده در سال اول ۱۰۰ میلیون دالر و در جریان ده سال، یک میلیارد دالر سرمایه گذاری می کند، که در دو سال اول از گاز استخراج شده ۱۰۰ میگاوات برق نیز تولید می کند.

ذخایر گاز طوطی میدان ولایت فاریاب، حدود ۷ هزار کیلومتر مربع مساحت دارد که با استخراج آن تا حدی زیاد گاز مورد نیاز کشور تامین و به صورت مستقیم و غیر مستقیم به هزاران نفر زمینه کار را مساعد می سازد.

قابل یاد آوریست که سرمایه گذاری در سکتور انرژی از طریق قراردادهای دولت با دولت، مشارکت خصوصی و عامه و سرمایه گذاری مستقیم صورت می گیرد.



# پـــروژه‌هـــای بـزرگ

## در سکتور ترانسپورت آغاز شده است

امارت اسلامی افغانستان سکتور ترانسپورت را یکی از اولویت های خود قرار داده اســـت. ارائه خدمات ترانســـپورتی مصـؤن و معیـــاری، تقویـــت روابط ترانسپورتی با کشورهای همســـایه و منطقه، زمینه ســـازی برای سرمایه گذاری در بخش ترانسپورت، توســـعه زیربناهای ترانســـپورتی، اصلاح ســـاختار اداری و فراهم ساختن زمینه اصلاحات اساسی در این بخش در صدر کارهای شـــان قرار دارند. طی سال جاری خورشـــیدی پروژه های عمده اقتصادی در بخش ترانسپورت راه اندازی شده است که مهم آن، سرک هرات ـ غور، لین دوم سرک کابل ـ غزنی، لین دوم سرک کابل ـ جلال آباد، قسمت اول سرک از چهارراهی شـــهید الی قصبه شـــهر کابل، سرک چهارراهی میدان هوایی کابل الی گمرک، لات دوم سرک کوتـــل خیرخانـــه کابل، سرک هـــای برخی ولایات دیگر، احداث سرک هـــا از مراکز ولایات به ولســـوالی های دور دســـت و کار اتصال کشـــور با کشـــورهای همسایه و منطقه از طریق خط آهن نیز به سرعت ادامه دارد. یکی از این پروژه ها بخش دوم قطعـــه چهارم خط آهن خواف – هرات اســـت که با تطبیـــق آن، تجارت با کشـــورهای منطقه توســـعه خواهـــد یافت. با آغاز این پـــروژه ها زمینه کار برای هزاران تن فراهم شـــده و با تکمیل آن تســـهیلات زیادی در عرصه ترانسپورت ایجاد خواهد شد.





# انفوگرافیک

# در کابل و ولایات بیش از ۶۲ هزار گدا جمع آوری گردیده است

کمیته جمع آوری گداها در حدود دو ســـال اخیر در کابل و ولایات کشـــور، بیش از **۶۲** هزار گدا را جمع آوری کرده است.



| ولایت | تعداد |
|---|---|
| کابل | ۵۸۸۴۱ |
| ننگرهار | ۱۲۲۷ |
| پکتیا | ۱۴۱ |
| لغمان | ۲۰۸ |
| پروان | ۳۵ |
| هرات | ۱۰۷۱ |
| خوست | ۴۰۳ |
| نیمروز | ۲۷ |
| فاریاب | ۸۰ |
| سمنگان | ۱۶۰ |

**تعداد مجموعی:**

**۶۲۱۹۳**

**گداهای مستحق**
**۲۷۷۱۵**

**گداهای حرفوی**
**۳۱۱۲۶**

وباقیمانده اطفال بی سرپرست و معتادین مواد مخدر اند.

Deputy PM for Economic Affairs Office
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

د روان ۱۴۰۳ لمریز کال په جریان کې د هېواد په کچه

# د لویو اقتصادي پروژو عملي چارې پیل شوې دي

## پروژې



- د افغانستان په خاوره کې د ټاپي پروژې عملي پیل
- د طوطي میدان ګازو استخراج
- د هرات - غور سړک
- د کابل - غزني سړک دوهم لین
- د کابل ښار یوشمېر مهم داخلي سړکونه
- د پاشدان بند پاتې چارې
- کابل هوايي ډګر کې معیاري انتظارخونه
- پلتوني بند
- اغاجان بند
- د خواف - هرات اوسپنې پټلۍ د ځلورمې قطعې دوهمه برخه
- د نیله باغ هستوګنیزه پروژه
- مس عینک پروژې ته غځېدلی سړک
- په ۱۲ ګمرکي بندرونو کې د سکنرونو نصب
- ۲۲.۷۵ مېګاواټه لمریزې برېښنا پروژه
- د ارغندۍ سب سټېشن د پاتې چارو پراختیا

د پروژو موقعیت:
بېلابېل ولایتونه

تمویلوونکی:
د افغانستان اسلامي امارت



**یادونه:**
د یادو پروژو د عملي چارو په پیلېدو سره لسګونو زرو کسانو ته د کار زمینه برابره شوې ده.

**د ریاســـت الوزراء اقتصادي مرستیال له لوري د ۱۴۰۳ لمریز کال په جریان کې د انـــرژۍ ، زېربنا، ترانســـپورټ او د اوبو مدیریت په سکټورونو کې ۱۶ بېلابېلې پروژې پرانیستل شوې دي.**

## سکټورونه

**انرژي**







**د اوبو مدیریت**

**زېربنا**







**ترانسپورټ**

## پـروژې

- د ۲۲،۷۵ میګاواټه لمریزې برېښنا پروژه
- د طوطي میدان سیمې د ګازو استخراج
- د کابل ارغندۍ سب‌سټېشن پراختیا

- پاشـــدان بند
- پلتونـــي بنـــد
- اغاجـــان بند

- نیله باغ هستوګنیزه پروژه
- په کابل نړیـــوال هوایي ډګر کې معیاري انتظارخونه
- پـــه ۱۲ ګمرکي بندرونـــو کې د الکترونیکي سکنرونو نصب

- د خواف – هرات اوسپنې پټلۍ د ځلورمې قطعې دوهمه برخه
- د خیرخانې کوتل سړک دوهم لاین
- د هرات – غور سړک
- د کابل – غزني دوهم لین سړک

- د کابل ښار هوایي ډګر له څلورلارې تر ګمرک پورې سړک
- د کابل ښار له شـــهید څلورلارې تر قصبې پورې سړک
